بسم الله الرحمن الرحیم

**د مکر اوښکې تویول**

**خبر:**

د اسلامي همکاریو سازمان (OIC) د هند د اتراپردیش ایالت په ایودها ښار کې د پنځو پېړیو پخواني جومات، بابري مسجد پرځای د رام مندر جوړول او پرانیستل وغندل. (سرچینه: ډاون ورځپاڼه)

**تبصره:**

د بابري مسجد کسیه د مغولي امپراتورۍ د عروج او زوال کیسه ښیي. دا جومات د لومړي مغل امپراتور، ظهیر الدین بابر لخوا جوړ شوی. د دغه جومات پر سر د انګریزانو لخوا د مسلمانانو او هندوانو تر منځ د کرکې د تخم کرلو تر وخته، یعنې ۱۸۵۳م کال پورې هیڅ لانجه نه وه؛ دا وخت د هندوانو یوې فرقې – نرموهي اکهاړه – د جومات پر ځای دعوه وکړه چې دا جومات د هندوانو د یوه معبد له ړنګیدو وروسته جوړ شوی دی. په ۱۸۵۹ کې، د بریتانیا استعماري ادارې په جومات پورې اړوند سیمه د هندوانو او مسلمانانو لپاره په دوو جلا جلا برخو وویشله. مسلمانانو ته د جومات دننه لمونځ کولو او هندوانو ته یې بهر د خپل عبادت اجازه ورکړل شوه.

په ۱۸۸۵ کې د بابري جومات مخې ته د رام (د هندوانو خدای) د عبادت لپاره د «چبوترا» یا د عبادت ځلي جوړولو د اجازې لپاره ځایي محکمې ته عریضه وشوه. دا عریضه دوه ځله رد شوه او قاضي امر وکړ چې هر څه دې په خپل ځای وي؛ ویې ویل چې «اوس د ۳۵۰ کاله مخکې تېروتنې» د اصلاح لپاره ډېر ناوخته دی.

په ۱۹۴۷ کې د هند نیمې وچې له ویشلو وروسته، افراطي هندوانو خپلې هڅې ژوندی وساتلې او د ۱۹۴۹ کال د ډسمبر په ۲۲مه او ۲۳مه، د هند حکومت یاد جومات «متنازع ملکیت» اعلان کړ او دروازه یې وروسته له هغه وتړله چې د هندو پادریانو لخوا د هندوانو د خدای بتان د جومات دننه کېښودل شول. له هغه وروسته په جومات کې هېڅ مسلمان لمونځ ونه کړ. هندوانو -د ټولو نامسلمانو او له اسلام څخه کرکه کوونکو په څېر- خپلو موخو ته د رسیدو لپاره له هرې لارې هڅې کولې او د جومات پر ځای یې د مندر د جوړولو لپاره یو لوی حرکت پیل کړ چې په ۱۹۹۲ کې د ۲۰۰۰ خلکو د مرګ لامل شول.

«**مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْعِزَّةَ فَلِلَّهِ الْعِزَّةُ جَمِيعًا إِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهُ**» [فاطر:١٠]

**ژباړه:** *«څوک چې عزت او قدرت غواړي( له الله څخه دې وغواړي)، عزت او قدرت له الله سره دی (د عزت او قدرت ترلاسه کولو اصول ښه وينا او عمل دی). ښه وينا د الله لورې ته ځي او خدای ښه عمل پورته بيايي.»*

په اسلام کې هغه څه چې يو ځای سپيڅلی کوي دا باور دی چې الله سبحانه وتعالی د کائناتو مالک دی او يوازې هغه سبحانه و تعالی د عبادت مستحق دی. په عبادت کې الله سبحانه وتعالی ته بشپړ تسليميدل او اطاعت شامليږي؛ ان که هغه د اهل ذمه (اسلامي دولت ته جزيه ورکوونکي) د حقونو ساتنه وي. حضرت عمر رضی الله عنه د ٦٣٧ کال د اپريل په لومړيو کې فلسطين ته ورسېد او د «سپېڅلې مقبرې» کليسا په ګډون يې له ښار څخه ليدنه وکړه. کله چې د ماسپښين د لمانځه وخت شو، صفرونيوس (مسيحي روحاني) بلنه ورکړه چې په کليسا کې دننه لمونځ وکړي؛ خو حضرت عمر رد کړه او ويې ويل چې که په کليسا کې لمونځ وکړي نو وروسته به مسلمانان وګڼي چې دا ځای بايد په جومات بدل شي او له دې سره به عيسويان خپل يو سپيڅلی ځای له لاسه ورکړي. پرځای يې له کليسا بهر لمونځ وکړ چې وروسته هلته د مسجد عمر په نوم يو جومات جوړ شو.

ان د هند په نيمه وچه کې هم مغلو د هندو اتباعو احساساتو ته درناوی درلود؛ څکه خو په ١٨٥٧ کې هندو بلواګر په کارتوسونو کې د غوا د چربۍ (وازدې) د کارولو پر وړاندې راپورته شول. ان که د غواګانو د علني ذبحې په اړه د بابر وصيت د باور وړ هم نه وي؛ د کارتوسو پر وړاندې د هندوانو غبرګون ښيي چې دوی هېڅکله د اسلام د حاکميت پر مهال له دغه ډول تبعيض سره (چې دوی يې اوس له مسلمانانو سره کوي) نه وو مخ شوي.

موږ وينو چې په نړۍ کې ډېر څه پېښيږي او تر ټولو ډېر زيان يې مسلمانانو ته رسيږي؛ مسلمانان يوازې هغه وخت اسلام پلی کولی شي چې په بشپړه او سمه توګه منګولې پرې ټينګې کړي. د الله سبحانه وتعالی په حکمونو او اوامرو کې هېڅ ډول زياتوالی او بدلون نه شي راتللی. د بابري مسجد د ړنګولو او پرځای يې د رام مندر جوړولو بهير څه باندې ١۴٠ کاله ونيول. دا ان د مسلمانانو د مرکزي قدرت، خلافت تر ړنګېدو وروسته هم په ټوله نړۍ کې د مسلمانانو ځواک ښيي.

دا پېښه لکه په اسلامي نړۍ کې د نورو پيښو په څير، ښيي چې کافران څنګه غواړي د اسلام نوم له منځه يوسي. دوی نه پوهيږي چې د مسلمانانو د حکامو په خاموشۍ کې به ودانۍ ونړوي، مسلمانان به ووژني؛ خو

اسلام هېڅکله له نړۍ څخه نه شي ختمولی. د اسلامي همکاریو سازمان (OIC) په څېر بنسټونه د جومات په ړنګېدو خپلې د درواغو اوښکې–لکه د فلسطین د مسلمانانو په وژلو یې چې تویوي- تویولی شي؛ خو باید ډاډه وي چې الله سبحانه وتعالی مومنانو ته د بریا وعده ورکړې او په هغه ورځ به مومنان د الله په رحمت کې ډوب شي؛ خو خیانت کوونکي به د خپلو کافرو ملګرو له ځای(جهنم) پرته د پټېدو لپاره بل ځای و نه مومي.

«**الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا**» [النساء:۱۳۹]

**ژباړه:** *«هغه خلک چې د مومنانو پر ځای له کافرانو سره د دوستۍ اړیکې ټینګوي، ایا دوی عزت له هغوی څخه غواړي؟ (که داسې وي) نو هر ډول عزت یوازې د الله سره دی.»*

اسلامي امت باید د وروستي پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له لارښوونو قوت واخلي؛ د هغه صلی الله علیه وسلم پر لار ولاړ شي او په دې لاره کې د خنډونو او ستونزو پر وړاندې تر هغې مبارزه وکړي چې څو بریالي شوي نه وي. بریا د الله سبحانه وتعالی له لورې ده. باید پوه شو چې تر کومه د الله سبحانه وتعالی په لار کې جګړه کوو؛ هېڅ جګړه نه بایلو او دا جګړه په ځمکه کې د الله سبحانه وتعالی د دین د حاکمیت لپاره ده. که هغه ورځ ووینو او که نه؛ له راتلو یې انکار نه شو کولی. که موږ د دې مبارزې برخه وو، نو موږ د الله سرتېري یو.

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## اخلاق جهان

## ۱۴۴۵هـ.ق کال د رجب ۱۷مه

## ۲۰۲۴م کال د جنوري ۲۹مه